# د الله جل جلاله په لار کې يوه ورځ تېرول له دې دنيا او څه چې پدې کې دي غوره دی

له سهل بن سعد السَّاعِدِي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «د الله جل جلاله په لار کې يوه ورځ تېرول له دې دنيا او څه چې پدې کې دي غوره دی، په جنت کې ستاسو د يوې کوړې (قمچينې) ځای له دې دنيا او هغه څه چې په کې دي غوره دی او يو سهارنی مزل چې څوک يې د الله په لار کې وکړي او يا ماښامنی لدې دنيا څخه غوره دی او څه چې پدې دنيا کې دي».

[صحيح] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې په اخلاص سره د يوې ورځې لپاره د هغه ځای ساتنه او پېره چې د مسلمانانو او کافرانو ترمنځه دی له دنيا او هر هغه څه څخه غوره دی چې په دنيا کې دي او په جنت کې د هغې قمچينې ځای چې د الله په لار کې پرې جهاد کېږي له دې دنيا او څه چې پکې دي غوره دی، او د ورځې له پيل څخه تر غرمې پورې يو ځل د الله په لار کې پياده کېدل، يا ېګا مهال د ماسپښين نه وروسته تر شپې پورې له دې دنيا څخه غوره دی او څه چې په دې دنيا کې دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2967